نو کارغه ته ځير شوم، تر دې چې د يوه غار په خوله کې کيناست .... زه هم دغار په لورې رهي شوم، او چې کله ورنژدې شوم، پر يوه بيخوده او بيچاره سړي مې سترګې ولګيدې چې د وهلو له کبله يې زخمونه پر وجود ښکاره کيدل او ډوډۍ يې هم په لاس کې وه.... لږ ورنژدې شوم، او ترې ومې پوښتل: ته څوک يې؟

وې ويل: زه د حج کوونکو له ډلې څخه يو تن يم، په لاره کې غلو رانه مال او د سفر ټول لوازم واخستل، بيا يې ډير ووهلم او وټکولم او دلته يې راوړم، چې اوس مې ته وينې.

څو ورځې مې په دې غار کې ولړه او تنده هم وزغمله، خو په پای کې مې خپل مهربانه پروردګار ته د زړه له کومې توجه وکړه، او له ځانه سره مې وويل: ای لويه پروردګاره! تا په خپل سپڅلي کتاب کې فرمايلي دي (أمن يجيب المضظر اذا دعاه و يكشف السوء .....) سورة النمل :۶۲

لاسونه مې خپل پروردګار ته لپه کړل، او دعاء مې وکړه: ای زما خالقه! زه تاته محتاج يم، زما پر وړاندې دا پرتې ستونزې له ما لرې کړه، او پر ما رحم وکړه، نو لوی پروردګار دا کارغه راته راوليږه، او زه دده ميلمه شوم.

نو ګرانو او خويندو! راځئ چې د ژوند په هره ستونزه کې خپل لورونکي او ښښونکي خدای ته رجوع وکړو .

د افغانستان امریکایي پوهنتون او د عقلونو ولکه

لیکنه : شریف عبدالعزیز الزهیري
ژباړه : جاوید وردګ

[داسې ښکاري چې تعلیم د اوس عصر ښه ګټور تجارت دی] په همدې ټکو د افغانستان د امریکایي پوهنتون د علمي مجلس غړي (کریس تایلر) خپله هغه مقاله چې د (فارن پالیسي) په مجله کې یې په افغاني ټولنه کې دامریکایي پوهنتون د رول په اړوه خپره کړې وه، ترڅو امریکایي پانګوالې دې ته وهڅوي، چې په نوموړي پوهنتون کې ۸۰ میلونه ډالره پانګونه وکړي.

امریکا د افغانستان له لس کلن اشغال ، او په دې موده کې د ډیرو مالي او ځاني تاوانونو له ګاللو وروسته دې نتیجې ته رسیدلې چې هغوی د یرغلګرو د مقبرې په هیواد کې خپلو موخو ته په هغه لاره چې دوی پرې روان دي، نشي رسیدلای، نو دوی باید خپلو ټاکلو موخو ته د نړۍ په دې حساسه سیمه کې د رسیدو لپاره نورې لارې وګوري، له همدې امله د امریکا په سیاست کې یو مهم بدلون راغی او هغه داچې دوی د زور د پالیسي پر ځای نرمه او ملایمه پالیسي باید وکاروي، چې دې پالیسۍ په هغو سیمو کې چې خلك یې په ټینګې او سختې مقابلې مشهور دي، ښه نتیجه ورکړېده، یا په بل عبارت د مسلمانانو پر وړاندې یې ښه نتیجه ورکړیده.

د هارورډ دمشهور پوهنتون استاذ (جونای) چې د نرمې پالیسۍ نظریه یې وړاندې کړه، هغه خپله دا نظریه داسې تعریفوي چې (دخپلو اړوندو موخو دښو نتایجو لاس ته راوړل په نرمۍ سره، نه په زور اوقوت)، او تعلیم دې موخې ته د رسیدو یو مهم عنصر دی چې تل د واك د خپرولو، او د نفوذ د ټینګولو لومړنۍ وسله او وسیله ده، همدا شان د ټولنیزو ، فرهنګي او فکري اشغال لپاره یوه ښه پیلیزه کیدای شي.

امریکایي پوهنتون اصلا ددې لپاره جوړ شویدی چې دښوونې ترنامه لاندې دتنصیر او نصرانیت خپرولو یو مرکز وي، نو د خپلو مهمو موخو د ترلاسه کولو لپاره یې دداسې ځوانانو په روزنه پیل وکړ، چې په ټولنه کې دمقام خاوندان شي، هغه ځوانان چې همدوی به په راتلونکې کې هیواد رهبري کوي، په داسې ډول چې ددوی راتلونکې تفکر او تګلاره به سوچه امریکایي وي، خو په افغاني جامو کې، نو په دې ډول به امریکا وکولای شي په ډیره لږه بیه د اوږدې مودې لپاره په دې هیواد کې خپل واك وچلوي، همدا په مسلمانو هیوادو کې د جوړو شوو حاکمو کسانو له لارې د اشغال پروسه ده.

همدې افکارو او سیاستونو په منځني ختیځ کې چې د همدې مکرجن استعماري تفکرسرچینه ګڼل کیږي، په پوره یوه پیړۍ کې خپل لوبغاړې درلودل، بیروت او قاهره ددې لوبو مهم مراکز ؤ، د منځني ختیځ مهم سیاستوال چې په دې سیمه کې د امریکایي سیاست لوبغاړې پاتې شوي دي، زیاتره د همدې دوو پوهنتونونو فارغان ؤ .

په علمي او اکاډیمیك ډګر کې بیا دې امریکایي پوهنتونونو اسلامي او عربي ټولنو ته هیڅ علمي سوغات نه درلود ، سره له دې چې ددې پوهنتونونو دادي اوس نیژدې سل کاله پوره کیږي، خو ټولنې ته یې یو متخصص علمي کدر هم ندې وړاندې کړی، نه یې زده کوونکو کوم مهم علمي راوړنې درلودې او نه کومه ښه اختراع ، ددې پوهنتونونو ټوله څیړنیزه هڅه داستعماري غوښتنو دپوره کولو پر محور راڅرخي، د کوم هدف لپاره چې دا پوهنتونونه جوړ وي دي.

د عراق امریکایي پوهنتون ددې لیکنې تر ورځې په سیمه کې تر دووڅیړنیزو مرکزونو پرته، چې یو یې د ټولنیزو څیړنو مرکز

چې په (۱۹۵۱) کال افتتاح شوی ،او دوهم د صحرا د څېړنو مرکز دی، بل علمي مرکز نه لري ، د پوهنتون د نورو فعالیتونو ګټې نېغ په نېغه د تنصیر او نصرانیت په کتوه کې ورتوییږي، دوی د قاهرې په ډیرو بې وزله سیمو کې د طبي او مادي مرستو فعالیتونه لري، همدا شان په هغو سیمو کې چې لوږې ، ناروغیو ، او جهل او فقر ځپلې دي، لکه ناصر او دویقه کې ډیر مشکوك فعالیتونه لري. او کیدای شي چې ډیر استخباراتي کارونه به یې هم تر سره کړي وي، لکه څنګه چې په ۲۰۱۰ کال د پنتاګون څخه د غلاشوو اسنادو په ترڅ کې معلومه شوه، چې د امریکا د دفاع وزارت او د مالیې وزارتونو، او د نومړي پوهنتون تر منځ د مصر دهیواد د ډیرو حساسو سیمو څخه د علمي څېړنو تر نامه لاندې پټ اسناد تبادله کول.

په افغانستان کې دا امریکایي پوهنتون په کال ۲۰۰۴ د ځنې لوړ پوړو چارواکو او افغاني سیکولرستانو په مرسته په کابل کې تأسیس شو، چې د تعلیمي موسسأتو سره به په لوړو تحصیلاتو او د نصاب په برخه کې مرستې کوي، پوهنتون پښتانه، هزاره ، ازبك، تاجك او ترکمن ...جزبوي ، دوی د امریکایي شعاري اصطلاح پر اساس په افغاني ټولنه کې د مسالمت آمیزه ژوند د فکر د خپرولو لپاره هلې ځلې کوي ، دې پوهنتون د (۲۰۱۱) کال د مې په میاشت کې خپله لومړنۍ دوره محصلین فارغ کړل، چې شمیره یې (۳۲) تنه وه (۹)ښځې او (۲۳) تنه نارینه، چې دوو تنو ته به په امریکا کې د تحصیل ضمینه برابروي، او په کال (۲۰۱۲) کې بیا (۵۲) تنه فارغ شول، چې (۶) به یې امریکا ته د تحصیل لپاره استول کیږي، د پام وړ خبره داده چې د نارینه وو په نسبت ښځینه محصلینو ته په دې پوهنتون کې ډیره ونډه ورکول کیږي، او زیاته پاملرنه دې لوري ته ده.

دا څرګنده خبره ده چې امریکا د افغانستان په ترقي او پرمختګ کې دومره دلچسپې نه لري، لکه څومره چې د داسې افغان نسل په روزنه کې یې لري چې په راتلونکې کې د ملك واګې په لاسونو کې واخلي، او په داسې توګه یې له اسلامي دین، ملي هویت، او افغاني خویونونه یوې خواته کړي، کوم رنګ چې په سیمه کې د امریکا له سیاستونو او ګټو سره تطابق ولري، داسې نسل وي چې افغاني هویت ولري امریکایي فکر، ددوی رنګ او ژبه افغاني وي، خو فکر کړنلاره او موخې یې امریکایي، په همدې سره امریکا دې ته اړتیا لري تر څو د خپلو عسکرو له ایستلو وروسته په خپله پالیسي او تګلاره کې بدلون راولي.

ددې پوهنتون د جوړیدو لویه موخه دکریس تایلر په وینا داده، چې دافغانستان لپاره داسې نوی قیادت او مشرتابه وروزي چې د دوی په وینا افراطي (مسلمان) نه وي، فساد له مینځه یوسي، دښځې او نارینه ترمینځ برابري رامینځ ته کړي، اوږدمهاله نړیوالې اړیکې (دغرب غلامي) ټینګې کړي، دافغان نوی ځوان نسل (چې غربي فرهنګ غواړي نه هر ځوان) غږ واوري، چې هغوی (ځوانان) ددې ټولنې راتلونکی دی او د یوې آزادې او معتدلې ټولنې دجوړولو هڅې (هغه مثالي ټولنه چې دامریکا له پلانونو او موخو سره په هر اړخیزه توګه توافق ولري.)

د (زویمر) پخواني نصراینت خپرونکې دنظریې له مخې چې وایي: (ونه باید د خپلې یوې څانګې په واسطه غوڅه شي) همدا نظریه اوس هم د غربي ټولنو یوه مهمه کړنلاره ده.

د امریکا د مشرانو د مجلس غونډې ته په استماعیه وینا کې د ایساف قوماندان جنرال جان الن وویل: د تاریخ په اوږدو کې ډیر لږ داسې پېښې شوي دي چې اشغالګرو داشغال شوي هیواد پاڅون کونکو ته ماته ورکړې وي، خو برعکس داسې ډیر شویدي، چې پاڅون کونکي پخپله دهمدې هیواد د محلي خلکو په لاس ما ت شوي دي، یعنې روان مقاومت چې جنرال یې بغاوت بولې یوازې د محلي ځواکونو په لاس ماته خوړلې شي ، نو آیا امریکا به همدا هدف د خپل پوهنتون په روزل شویو افغانانو ترلاسه کړي، لکه څنګه یې چې په منځني ختیځ کې پخوا ترلاسه کړی ؤ او که به یې ټول خوبونه د همدې پیاوړې ملت په لاس په اوبو لاهو شي؟.

)دا پاسنۍ لیکنه یوه عربي لیکوال د (کریس تایلور) د مقالې په بنسټ لیکلې ده، خو که په رښتیا هم څوك ددې پوهنتونون پخوانۍ ترایخچې ته وروګرځي چې امریکایي پوهنتونونو په منځني ختیځ کې عربي ملتونو ته څه په سوغاتونه پرېښودل، نو له ورایه به څرګنده شي چې ددې خدمتونو تر شا د امریکا لوی پلانونه پراته دي چې موږ یې په دې پټو سترګو نشو لیدلای، او که یې وینو ددې توان نه لرو چې په دې فساد کې غرق حکومت یې د بندولو او یا د بربنډولو توان ولري، امریکا د عراق د آبادۍ او دیموکراسۍ لپاره یو پوهنتون د عراق په اسماعیلیه کې هم جوړ کړ، خو د عراق وینې او بیدارو خلکو د هغه پوهنتون هغه پټ رازونه راپورته او په رسنیو کې خپاره کړل چې د ویلو ندي،. د همدې مقالې سره یوځای یو بل مضمون د بینوا سایت د حکمت الله بارکزي په قلم خپور کړی او ماته لاس ته راغی ، نومړي د پوهنتون له دباندې څخه یو څه موارد په ګوته کړي چې کیدای شي همدا دې ته لاره هواره کړي چې د ملت وینې بچیان وهڅوي چې ددې پوهنتون د پالیسیو او کړنو په اړوند پوره معلومات هیوادوالو ته وړاندې کړي ، مخکې تر دې چې داسې کدرونه راته وروزي چې افغاني هویت او امریکایي عقیده ولري.

پاته د نه وي چې ددواړو (عراقي + افغاني) پوهنتونونو په رأس کې د خلیل زاد په شمول داسې سیکولرې ستې کار کوي چې خپل هرڅه یې دامریکایي نژاد او څوکۍ لپاره قرباني کړي دي.

ژباړونکی

د سیرت النبي صلی الله علیه وسلم سیالۍ؛

د یوه ښه روایت پیلامه

م. شفیقي

د تېرې جمعې په ورځ په عیدګاه جومات کې د جمعیت اصلاح به اهتمام د سیرت النبي صلی الله علیه وسلم د سیالیو د پایلو د اعلان مراسم جوړ شول، دغه سیالۍ تېره اونۍ تر سره شوې چې د جمعیت اصلاح مسوولین وایي شپږ زره ځوانانو او نجونو پکې برخه واخیسته.

د داسې غونډو جوړول واقعاً نوښت دی، یوه لویه اړتیا ده چې باید په حکومتي کچه د رسول الله صلی الله علیه وسلم د مبارك سیرت په مناسبت دغسې غونډې او سیالۍ جوړیدای، جمعیت اصلاح ډېر د ستاینې وړ دی چې د دغسې سیالیو او غونډو جوړولو هڅې کوي.

د سیرت النبي صلی الله علیه وسلم په سیالیو کې د شپږ زره تنو ګډون زمونږ د مظلوم ولس یوه بله ستره نېکمرغي ښیي، په داسې ټولنه کې چې د فساد او بې لارۍ په لسګونو دروازې پرانیستې وي، اخلاقي فساد د رسنیو تر کچې د هر کور په حریم ورننوتلی وي، د آزادۍ حدود پکې تر پښو لاندې شوي وي، د هنر او ابتذال، فساد او ارزښت کرښې سره ګډې وډې شوې وي، په داسې یوه با برکته مجلس کې شپږ زره ځوانانو او نجونو ګډون ډېره لویه خبره ده، دا پراخ ګډون ښکاروي چې افغانستان د اسلام کور دی، د وخت د تزویرونو څپې به تېرې شي او دغه ولس به انشاءالله خپل ارزښتونه او هویت ساتي.

زمونږ په ټولنه کې له تېرو نږدې ۱۲ کلونو راهیسې په هنر، ژورنالېزم، شعر او ادب او نورو اړخونو کې سیالۍ تر سره شوې، ارزونې شوې، نمانځغونډې جوړې شوې، په هر اړخ کې یو شمېر کسان ستایل شوي، هڅول شوي، ډالۍ ورکړل شوې، ستاینلیکونه او مډالونه ورکړل شوي دي، دا ټول د ستاینې وړ دي، خو د اسلام د تاریخ، په ځانګړې توګه د سیرت په اړه د تېرې جمعې ورځې د غونډې په څېر اروا پالې غونډې نه وې جوړې شوې، څومره چې په نورو یادو اړخونو کې سیالۍ او یا ارزونې اړینې دي تر هغو زیات دې ته اړتیا ده چې زمونږ د ځوان نسل زده کړې، دیني او اخلاقي روزنې ته جدي پاملرنه وشي.

څلور کاله وړاندې چې به شمشاد تلویزیون کې «څوك غواړي شي دولتمند» پروګرام پیل شو، د لومړنو پروګرامونو په لړ کې مې یوه ورځ د شلو- دوه دویشتو کلونو یو زلمی ولید چې د «یو اس آی ډي» کارکونکی ؤ او په دې پروګرام کې مېلمه ؤ، نوموړی په همغه لومړۍ پوښتیه کې ګونډه شو، پوښتنه څه وه؟

په مشرانو نارینه و کې پر حضرت محمد صلی الله علیه وسلم چا لومړی ایمان راوړی دی؟

ډېر پرې خپه شوم چې به ځوابونو کې د حضرت ابوبکر صدیق رضي الله عنه نوم هم ؤ خو ځوان پکې ناکام شو، د یو اس آی ډي مامور مانا دا چې انګریزي یې زده کړې وه، ده چې د دنیا د څو ورځو ژوند لپاره پردۍ ژبه زده کوله دا یې حق ؤ، خو کاشکې د هغه راتلونکې تلپاتې ژوندانه نه دومره بې پروانه وای چې د اسلام د تاریخ هغه ډېرې مهمې پېښې یې هم یادې نه وي.

زما وړاندیز دا دی چې په حکومتي کچه باید زمونږ د ځوان پاړکي د معنوي روزنې مسوولیتونه له چارواکیو هېر نشي، اطلاعات او فرهنګ وزارت، د پوهنې وزارت او نور فرهنګي او علمي مرکزونه باید د جمعیت اصلاح له دغه نوښت نه زده کړې، په دې برخه کې له رسمي نصاب پرته باید په رسنیو په تېره په راډیویي او تلویزیوني چینلونو کې سیالۍ او نور معلوماتي پروګرامونه ډېر شي.

په پاکستان کې هر کال د مبارك میلاد په ویاړ د سیرت رسمي کنفرانس جوړېږي چې د سیرت په اړه لیکل شویو مهمو آثارو ته جایزې ورکوي، دا ټول د تقلید وړ شیان دي، دریغه زمونږ په رسنیو کې په تېره په تلویزوني چینلونو کې د میلاد د نمانځنې کلیشه یې دستور مات شي چې ټول تلویزیوني چینلونه په هغه ورځ الرسالة فلم خپروي، او په یو ه غونډه کې په کال کې یوه ورځ د رسول الله صلی الله علیه وسلم پر ژوند او کارنامو ویناوې اورول کېږي.

خدای دې وکړي چې همدغه سږ کال د رسول الله صلی الله علیه وسلم مبارك میلاد په نوي بڼه داسې و نمانځل شي چې زمونږ په ځوان نسل کې د سپیڅلي پیغمبر او دده د مخلصو ملګریو د کارنامو، اخلاقو او کړو وړو د تقلید جذبه راوپاروي، چې په همدې کې له فساد او زواله د خوندیتوب رمز او راز پروت دی.

له ویسا درنې ورځپاڼې څخه په مننې

قسمت ۲۹

ادامهٔ از بحث:

با فرزندانت مهربان و نرمخو باش

نویسنده: دکتور سمیر یونس
مترجم: محقق عبدالرحمن حکیمزاد

چهارم: پیامبرعلیه السلام با عایشه رضی الله عنها وقتی ازدواج نمود که عمر کمی داشت که در حدود نه سالگی می رسید، اطلاعاتی زیادی از ایشان رسیده که بیانگر آنست که رسول الله صلی الله علیه وسلم با وی بازی و نرمش میکرد و ویرا خوش نگهمیداشت که از آن جمله مسابقه با عایشه رضی الله عنها بود که عمر کمی داشت و بر رسول الله صلی الله علیه وسلم پیشی گرفتند، روزی ویرا با دوستانش یافت که با آنها با پنبه و پشم بازی می نمودند، به کار آنها خندید و از عایشه پرسید که: "این چیست"؟ جواب داد: اسپ سلیمان، پیامبرعلیه السلام خندید. و یرا به برندهٔ مسجد بالا کردند تا سپاهی را که نیزه بازی میکردند، ببیند، وی از مشاهدهٔ آن "صحنه" هر قدر وقت زیادی را در برگرفت، خسته نشدند و از آن بازی لذت می بردند تا آنکه خود وی اعلام داشتند که به همین قدر اکتفاء میکند. آنجناب بر اطفال میگذشتند به آنان سلام میدادند و با آنها به نرمش، سخن شیرین و مزاح گونه حرف می زدند، این حالت محمد ویارانش بود که با اطفال نرمش نشان میدادند و خود را به مستوای فهم آنها قرار میدادند و با آنها بازی میکردند پس امت محمد صلی الله علیه وسلم را چه شده است که خشونت و قطع رابطه را یگانه منهج تربیت اولاد خویش در خانه ها و در تعلیم آنان در مکتب میگردانند؟! آیا پیامبر مان الگوی مانیست؟ پس چرا از منهج و روش ایشان در تربیت فرزندان، خود را کنار می زنیم؟! تربیت درست و سالم فرزندان مان به انس نیاز دارد نه به وحشت، به محبت و دلسوزی نیاز دارد نه به خشونت و بد بینی، آیا به نفس خود مراجعه کرده ایم تا بخاطر خوشبختی فرزندان معصوم مان، از وقار مردانگی خویش بکاهیم؟ این وضعیت مرا سخت غمگین می سازد که اطفالی را ببینم که گریه کنان بسوی مکتب می روند!! زیرا مکاتب در کشور ما، بارِ روزمره و غمِ تازه و تکراری گردیده است به ویژه زمانیکه کودک درک کند که استادش "مردی" کم حوصله و ضعیف البصیرت بوده، وظیفه اش را نمی پسندد، احساس مسؤولیت نمی کند، توانایی تعامل با اطفال را ندارد و حرصش ترکیز به هیبتش میباشد، بناءً هرچند این استاد خواهان سعادت وکامیابی اولادش باشد "ولی شخصی به درد بخور نیست".

بدون شک اطفال ما به نفس آرامی نیاز دارند که احساس خوف و بیم نکنند زیرا کودکی که احساس ترس نماید، نه تربیت می شود و نه چیزی را می آموزد، و نفسش تا وقتیکه غمگین باشد، آرام نمی شود بلکه وقتی درست تربیه می شود و چیزی را می آموزد که احساس آرامش نموده و در فضایی کلان شود که در آن آرامش برقرار بوده و مورد اهتمام باشد و در پهلوی آن با وی با ملاطفت و نرمی ای که توأم با نصیحت و محبتی باشد که نظام "خانوادگی" را فاسد نکند، چون وقتی وی "در اینگونه محیط کلان می شود" با دیگران با قلبی باز، ذهن حاضر و گوش شنوا، برخورد می نماید، ینابرینکه فرزندان مان گلهای خانه و زینت زندگی هستند طوریکه الله متعال می فرماید: "الْمَالُ وَالْبَنُونَ زِينَةُ الْحَيَاةِ الدُّنْيَا وَالْبَاقِيَاتُ الصَّالِحَاتُ خَيْرٌ عِندَ رَبِّكَ ثَوَابًا وَخَيْرٌ أَمَلًا". الکهف: ۴۶

(مال و پسران زیور زندگی دنیایند و نیکیهای ماندگار از نظر پاداش نزد پروردگارت بهتر و از نظر امید [نیز] بهتر است).

اطفال مان شمع های خندان خانه های مان هستند بناءً مستحق محبت و دلسوزی ما اند و "حق دارند" که که وقت و زحمت خود را فدای شان نماییم.

راه کوتاه برای رسیدن به دلهای کودکان عبارت از نرمش و مزاح با ایشان و دلسوزی زیاد مان نسبت به آنها و محبت مان به ایشان میباشد، این چیزیست که پیامبرعلیه السلام ما را فهمانده است. وقتی را به یاد دارم که فرزندانم که در آن وقت خورد بودند زمانیکه دوست و برادرم مهربانم استاد دکتر بدرالدین غازی رحمه الله به دیدار مان می آمد، فرزندانم به آمدن وی خوش می شدند و دوش کنان به پیشوایش می رفتند و بینهم مسابقه می نمودند که کدام شان زودتر پیش وی می رسند تا ویرا دوست عزیزم بردارد، به آغوش بگیرد و همرایش محبت نماید، اگر روزی نمی آمد با وی تماس تیلفونی میگرفتند و از وی میخواستند که باباجان! چه وقت به دیدار مان می آیی؟ وقتی به بیماری وفات رسید، به عیادتش رفتند و برایشان نامه هایی می فرستادند که مبین تأثر شان بود، و قتیکه خداوند روحش را گرفت، سخت غمگین شده و همیشه برایش دعاء می نمایند.

پنجم: شفقت و مهربانی: حضرت انس بن مالک رضی الله عنه در بارهٔ شفقت پیامبرعلیه السلام با پسرش ابراهیم میگوید: هیچ کسی را مهربانتر با خانواده اش نسبت به رسول الله صلی الله علیه وسلم ندیده ام، ابراهیم در روستای اطراف مدینه در حالت شیرخوارگی بود، رسول الله صلی الله علیه وسلم به آنجا می رفت و ما نیز همرایش بودیم، وی وارد خانه می شد "ابراهیم را" می بوسید و برمی گشت. صحیح مسلم، باب رحمته الصبیان والعیال، ج: ۷، ص: ۷٦

هیچ کسی در هر مقامی که باشد ادعاء کرده نمیتواند که بگوید نسبت به رسول الله صلی الله علیه وسلم مصروفیت کاری وی زیاد است، ولی با آنهم کارهایش مانع این نمی شد که حقوق، محبت و نرمش با ابراهیم وسایر اطفال دور و برش را، اداء نکند.

ششم: فکاهی و مزاح با اطفال: انس بن مالک رضی الله عنه در رابطه به فکاهی آنجناب با دخترکی میگوید: "پیامبر علیه السلام از جمله کسانی بود که با اطفال زیاد فکاهی میگفت". معجم الوسیط، ج: ٦، ص:۲٦۳

زبانی که طفل را وامیدارد که با ما "بزرگان" هم صحبت شود، زبان محبت است، و مفردات این زبان، دست کشیدن بر وی، بوسیدن وی، به آغوش گرفتن و بازی با وی میباشد، البته این زبانیست که مشقتی را در پی ندارد ولی در عین حال بسیار سنگین و با ارزش است، از جمله مزاح پیامبرعلیه السلام با انس این بود که ویرا بنامش صدا نمی گیرد بلکه میگفت: "ای دو گوشه". سنن الترمذی، باب المزاح، ٤، ص: ٣٥٨. سنن أبی داود، باب ماجاء فی المزاح، ج: ٤، ٤٥٨

محمود بن الربیع که از یاران خورد سال "پیامبرعلیه السلام" بودند، میگوید: به یاد دارم که پیامبرعلیه السلام آب دهانش را که از دولچهٔ چاه خانهٔ مان گرفته بودند، به رویم پاش داد و من پنج سال داشتم). صحیح بخاری، کتاب بدء الوحی، ج: ١، ٢٩. صحیح مسلم، باب الرخصة فی التخلف عن الجماعة عذراً، ج: ٢، ص: ١٢٧

ازین حدیث شریف نرمش و شوخی با اطفال ثابت می شود و این یک نوع بازی مباحی است که اطفال به آن خوش می شوند. جای تعجب است که بعضی مردم از تربیتی که پیامبر محبوب مان اساسش را گذاشته که با اولاد خود آنگونه برخورد داشته باشیم، دوری گزیده، تعدادی از والدین و معلمین از قشر مرد و زن را می یابیم که از آن بخل ورزیده، بعضی از آنها از روی غرور و تکبر "این روش" را کنار میگذارند، عدهٔ از آنها از هیبت و مدیریت خویش می ترسند در حالیکه این ترس خیالیست و حقیقت ندارد و برخی دیگری ازین "قماش مردم" از روی سنگدلی و خشونت "این روش" را دور می اندازند که از جملهٔ همین گونه مردم تعدادی از بادیه نشینان بودند که بحضور پیامبرعلیه السلام آمدند و گفتند: آیا کودکانت تانرا می بوسید؟ پیامبر علیه السلام فرمودند: بلی. آنان گفتند: سوکند به الله ما کودکان خود را نمی بوسیم. پیامبرعلیه السلام فرمودند: "آیا من مالک این هستم که خداوند جل جلاله شفقت و مهربانی را از دلهای شما بیرون کرده است". صحیح مسلم، باب رحمته الصبیان والعیال، ج: ٧، ٧٧

هفتم: به آغوش گرفتن کودک: طی سطرهای مختصر گذشته که مواقف پیامبرعلیه السلام و یارانش در شفقت و نرمش شان با اطفال بیان گردید، تصاویر، مواقف و روش هایی نهفته است که ما را می فهماند که چگونه با فرزندان خود مهربان باشیم. از مواردیکه کودک به آن خوش می شود و نفسش متأثرشده و احساس سعادت می نماید، برداشتن و به آغوش گرفتن وی توسط اقاربش میباشد، هرچند شاید این امر بر والدین سنگینی کند ولی "واقعیت اینست که این امر" چیز مهم بوده و کسیکه میخواهد محبت را در کودکی "فرزندش" کشت نماید و در جوانی نیکی "وی" را بچیند، از تعمیل این کار مستغنی شده نمی تواند، ابوهریره رضی الله عنه میگوید: پیامبرعلیه السلام در قسمتی از روز به بازار بنی قینقاع رفت و پس از آن به خانهٔ فاطمه رضی الله عنها آمدند و فرمودند: "کودک کجاست، کودک کجاست؟ و مقصدش این بود که حسین کجاست؟ مادرش ویرا لحظاتی نگهداشت، گمان کردم که ویرا گردنبند می پوشاند ویا می شوید، چون حسین آمد پیامبرعلیه السلام ویرا به گردنش محکم گرفت و بوسید و سپس فرمود: "پروردگارا! ویرا دوست بدار و کسی را که ویرا دوست میدارد "نیز" دوست بدار". صحیح بخاری، کتاب بدء الوحی، ج: ٣، ص: ٨٧. صحیح مسلم، باب فضائل الحسن والحسین، ج: ٧،ص: ١٢٩

روزی جابر بحضور پیامبرعلیه السلام وارد شدند و ویرا درحالی دیدند که حسن و حسین در پشتش قرار دارند و با آنها با دستان و پاهایش حرکت دارد و میگوید: بهترین شتر شتر شماست و بهترین بار شما هستید". س الطبرانی، لیمان بن أحمد بن أیوب بن مطیر اللخمی الشامی، أبو القاسم ، معجم الکبیر، ج: ٣، ص: ٨٧، المکتبة الشاملة

اسامه بن زید که ملقب به دوست پسر دوست بودند، روایت میکند که پیامبرعلیه السلام وی و حسن را بر میداشتند و میگفتند: پروردگارا! آنها را دوست بدار چون من آنان را دوست دارم". صحیح بخاری، کتاب بدء الوحی، ج: ٥، ص: ٣٠

هشتم: دادن هدیه به کودک: از جمله مواردیکه باعث تقویهٔ الفت و مهربانی اولاد می شود، دادن هدیه به آنها میباشد؛ زیرا دادن هدیه سبب جلب محبت می شود، روی این علت است که پیامبرعلیه السلام توصیه نموده اند که: " تَهَادَوْا تَحَابُّوا". السنن الکبری للبیهقی، باب التحریض علی الهبة، ج: ٦، ص: ١٦

(هدیه بدهید چون "هدیه دادن باعث" محبت می شود).

نقش هدیه بالای بزرگان و کودکان یکسان میباشد، نویسندهٔ این مقاله "که عمرش بیش از پنجاه سال است" بزرگانی را که برایش هدیه و عیدی میدادند، از یاد نبرده است "عیدی عبارت از پول و مال اندکی است که در روز عید از طرف بزرگان به کودکان داده می شود".

پیامبرعلیه السلام نیز هدیه را می پذیرفتند، طوریکه نقل است وقتیکه نجاشی حلقهٔ را که در آن انگشر طلایی بود که با نگین حبشی آراسته شده بود، ارسال داشتند، ایشان آنرا گرفتند و نواده اش امامه بنت ابی العاص را فرا خواندند و برایش فرمودند: "فرزندم! خود را با این آرایش بکن". سنن ابی داود، باب ماجاء فی الذهب للنساء، ج: ٤، ص: ١٤٨. سنن ابن ماجة، کتاب اللباس، ج: ٤، ص: ٦٢٠. مسند احمد بن حنبل، ج: ٦، ص: ١١٩

به این ترتیب رسول الله صلی الله علیه وسلم را می بینیم که با اطفال به شمول فرزندانش، نواده هایش و فرزندان یارانش شفقت و مهربانی می نمایند، با آنان مزاح میکنند، مزاح آنان را نیز می پذیرند، رفت و آمد آنانر تحمل می نمود، و شخصیت بزرگش ویرا ازین روش با ایشان باز نمیداشت.

جای تعجب نیست که شخصی را که پروردگارش توصیف نموده که بر مؤمنان مشفق و مهربان است، ازین ابا نورزد که خود را به منزلهٔ عقول و خواسته های اطفال پائین ببرد و با آنها در بازی و مزاح شرکت کند. کاش پدران این را بخوانند تا پدر متکبری را نیابیم که ادعای عزت و وقار می کند، ولی با آنهم بر فرزندان خویش سختگیری میکند و نمیداند که این "عملکرد وی" مخالف روش پیامبرعلیه السلام با کودکان و جوانان است. شفقت و مهربانی رسول الله صلی الله علیه وسلم را که در قبال پسران، دختران، نواده ها و همسالان شان داشتند "و آنرا فوقاً" دیدیم، مارا وامیدارد تا به خود مراجعه نموده و برخورد خانوادگی خود به ویژه با مادران، پسران، دختران و همسران خویش را ارزیابی نماییم و محبت و دوستی را در دلها و وجدان جا دهیم و نفسهای "یکدیگر" را با محبت و مهربانی، سیر نماییم.

برای برنده گان پیش تاز مسابقه بزرگ سیرت جوایز توزیع گردید

گـزارش : احمـد ضـیاء رحیمـزی – گروپ رسانه یی اصلاح

پس از آنکه امتحان بزرگترین مسابقه سیرت النبی صلی الله علیه وسلم بـه سـطح شـهر کابل اخذ گردید، به تاریخ ۲۳ حمـل مطـابق ۱۲ اپریل ، بـرای ۱۴۳ تـن از پیشـتاز تـرین مشارکین این مسابقات در صحن مسجد عید گاه شهر کابل، جوایز وهدایا توزیع گردید.

این مسابقه بزرگ از جانب جمعیـت اصـلاح افغانستان به همکاری مالی شرکت مخابراتی M.T.N بتاریخ ۱۶ حمل سال جاری مطابق ۵ اپریل در مسجد عید گاه شهر کابل برگزار گردید که در حدود ۶۰۰۰ تن در آن اشتراک ورزیده بودند.

جمعیت اصلاح افغانستان وشرکت مخابراتی M.T.N، محفل با شکوهی را به اشـتراک هزاران تن اعـم از مشـارکین ایـن مسـابقه، اعضای پارلمان،شخصیت های نخبه جامعه،علمای دینی و شـهروندان کابـل ومحصلین وشاگردان ، بتاریخ ۲۳ حمل ،در مسجدعیدگاه شـهر کابـل تـدویر نموده بودند، که ضمن آن مشارکین پیشتاز این مسابقه سیرت اعلان وجـوایز وهدایا به آنها توزیع گردید.

به اساس اظهارات محمد داوود صمیم مسؤول برگزاری ایـن مسـابقه سـیرت النبی، جایزه اول این مسابقات را برادری بنام وجیـه الله ناصح ولد عبـدالوکیل باشنده ولایت پروان که محصل پوهنځی شرعیات پوهنتون کابل می باشد، حایز گردیده که تکت سفر به مکه مکرمـه جهـت ادای مناسـک عمـره مـی باشد.

داوود صمیم می گوید که وجیـه الله توانسته بـود در ایـن امتحـان بـا بدسـت آوردن ۹۲،۸۸ نمره را مقام اول را از آن خود سازد.

به اساس اظهارات صمیم مقام دوم در این مسابقات را عمـار ولـد عبـدالودود باشنده ولایت بدخشان وفارغ صنف دوازدهم یکی از لیسه های شهر کابل به خود اختصاص داده بودکه توانسته است ۹۲،۵۵ بدست بیاورد وبرنده یک پایـه کمپیوتر لپ تاپ شناخته شده است.

به همین گونه در بین طبقه اناث سلما سحر بنت عبدالشـکور باشـنده ولایـت میدان وردگ محصل پوهنځی شرعیات موسسه تحصیلات عالی سلام، بلند ترین نمره را از آن خود نموده است که در ترتیب عمومی حـایز مقـام هشـتم گردیده است.

داوود صمیم همچنان افزود که از بین همه مشارکین مسـابقه در حـدود ۱۵۰ تن آن توانسته اند ، نمره کامیابی را از آن خود نمایند که برای تقریباً یک صد وچهل تن از کسانی که بیش از ۸۵ فیصد نمره گرفتـه انـد، جـوایز وهـدایای تهیه شده به همکاری شرکت مخابراتی M.T.N توزیع گردید.

عبدالظاهر حمیدی استاد موسسه تحصیلات عالی سـلام ومسـؤول برگـزاری امتحان دراین مسابقه ، می گویدکه پارچه های حل شده توسط شرکت کننده گان این امتحان توسط گروپی از استادان پوهنتون هـای مختلـف و آگاهـان علوم اسلامی ملاحظه گردید وپروسه امتحان وهمچنـان اعطـای نمـرات بـه مشارکین،به شکل کاملاً شفاف ومطمین تطبیق گردید.

جوایز این مسابقه بزرگ به کمک مالی شرکت مخابراتی M.T.N بـه برنـده گان این مسابقه توزیع گردید که جایزه اول آن تکـت عمـره ، وجـایزه هـای بعدی شامل چند عراده موتر سـایکل، چنـد پایـه کمپیوترلـپ تاپ،چنـد پایـه ماشین کالاشویی، چندعراده بایسکل،چند پایه ماشین خیاطی ، حجـاب هـای زنانه وچند سیت تلیفون موبایل می باشد.

مشارکین این امتحان از نظم صحنه امتحان وهمچنان از شفافیت در بررسـی پارچه های این مسابقه رضایت داشتند، خواهان تدویر هرچه بیشتر این گونـه مسابقات وامتحانات گردیدند.

عبدالفتاح جواد مسؤول دعوت وارشاد جمعیت اصلاح هـدف از برگـزاری ایـن گونه مسابقات را ایجاد فضای رقابت سالم بین جوانان اعم از پسران ودختران ، افزایش سطح معلومات دینی آنها و ایجاد روحیه مطالعه بین دانـش آمـوزان دانست.

قابل یاد آوری است که جمعیت اصلاح افغانستان به حیـث یـک نهـاد دینـی وفرهنگی درکابل این چندمین بار است که به تـدویر چنـین مسـابقات دینـی ومعلوماتی دست می یازدو هر بار به برنده گان این مسابقات جـوایز وهـدایای گرانبهایی را تقدیم نموده است.

جمعیت اصلاح در ۱۸ ولایت افغانستان همه ساله یک مسابقه ای از این نـوع رابرگزار می نماید.

په جلال آباد کې

«دجمعیت اصلاح فعالیتونه او لاس ته راوړنې»

تر سرلیک لاندې غونډه

راپور : عبدالصبور مبارز

(۱۳۹۲/حمل/۲۴ شنبه) جمعیت اصلاح ختیځ زون د خپل پراخه فعالیتونو په لړ کې داخل وغوښتل چې خپل په دین مینو هیودوالو ، مشرانو او ملي تجارانو ته خپل د تیر کال فعالیتونه او لاس ته راوړنې وړاندې کړي او په اینده کې دې ترې خپل مالي او معنوي ملاتړ غوښتنه وکړي.
په همدې خاطر یې د جلال اباد ښار د پنج ستاره هوټل په انګړ کې یاده غونډه جوړه کړه غونډه د ماسپښین په ۳:۳۰ بجو د

استاد محمد ګلاب توحیدیار په ویاندویې او د قاري صیب محمد صابر په تلاوت سره پیل شوه.
د جمعیت اصلاح د ختیځ زون مسئول او د مرکزي شورا غړي دکتور نجیب الله صالح یادې غونډې ته خپله پیلیزه وینا واورولـه استاد په خپلو خبرو کې وویل :په افغانستان کې مختلف مؤسسات او مختلفې ادارې د فساد لپاره کار کوي تر څو د افغانستان په دین مین ملت د خپل دین څخه منحرف کړي او د فساد دروازې ورته پرانیزي نو د همدغو مفسدینو په خلاف جمعیت اصلاح خپل سنګر خلاص کړی دی او د شته امکاناتو په لرلو سره ددوي مخنیوې کوي او له بلې خوا د اسلام اصیل فهم خپلو هیوادوالو ته رسوي.
د غونډې دریم ویناوال د مجمع علمي علما افغانستان مشر شیخ القران مولانا عبدالصبور و چې مولوي صیب جمعیت اصلاح په لاندې الفاظو د غونډې ګډونوالو ته ورپیژنده:

ـ جمعیت اصلاح د سید جمال الدین فکر دی او د همغه فکر به مخکې وړي.

ـ جمعیت اصلاح د هغه عزم نوم دی چې هیڅکله شکست نه خوري.
ـ جمعیت اصلاح یو فکري، اجتماعي ، تعلیمي او دیني حرکت دی.
ـ جمعیت اصلاح د مظلوم د لاس نیوی او د ظالم د لاس غڅولو نوم دی.
ـ جمعیت اصلاح د وحدت او همبستګې د فکر نوم دی.
ـ جمعیت اصلاح د سمتي ، ژبني ، او سیمیز تعصب د لمنځه وړلو نوم دی.
ـ جمعیت اصلاح د اجتماعي عدالت او اسلامي نظام د راوستلو نوم دی.
مولوي صاحب زیاته کړه نو اوس جمعیت اصلاح ستاسې مرستې ته ضرورت لري که هغه مادي وي او که معنوي او که ستاسې مرستې نه وي نو شاید دا حرکت هغسې ګړندې حرکت ونکړي لکه څنګه چې په کار ده.
د مولوي صیب د وینا څخه وروسته د غونډې ټولو ګډونوالو ته د جمعیت اصلاح د معرفي او د فعالیتونو ویډیوي راپور وښودل شو او د هغې نه وروسته ټولو ګډونوالو د مرستې کولو اعلان وکړ چې لله الحمد زمونږ په دین مینو تجارانو او ورونو په پوره اخلاص سره مرسته وکړه.

ځینې هغه حالات چې انسان پکې دخپل ځان قابو له لاسه ورکوي

دکتور شفیق الله امین

دانسان لپاره په ژوندکې ډیره ستره ستونزه خپل ځان دقابو نه وتل، په نفسي غوښتنو اوخواهشاتو پسې تلل او عقل دهغوی تابع کول دي.

زه د دې لپاره څوبیلګې یادول غواړم چې ځان ترې وساتي، اوبیاله دې حالاتوسره دمبارزې او مقاومت یادونه کوم:

۱-دکارونوپه اجراء کې ځنډ اودخپل وخت نه وروسته کول، راحت، سکون او بې کاري ښه ګڼل.

۲-هرکارته داقدام په وخت کې دشك او ترددپه نظر کتل، ترڅوچې بریالیتوب یقیني نه وي کارته دناکامۍ دویرې اقدام نه کول.

۳-نیوکه نه منل، په کوچنۍ خبره اوکار غصه کول، کله چې په غصه شي هرڅه ورانول دهیچا مراعات نه کول او دهیڅ ډول زیان پروا نه لرل.

۴-دکار په وخت کې عصبي نارامۍ او ښه پاملرنه نه لرل.

۵-په ځان کار زیاتول چې دبې اندولۍ، خفګان او ګډوډۍ سبب ګرځیږي.

٦-په خپل ځان دهیڅ ډول کارکولو باورنه لرل.

۷-دستړیااو زړه تنګۍ په سبب کار ترپایه نه رسول.

دتېرو نیمګړتیاوو اوستونزو- چې ډیر خلك ورسره لاس په ګریوان دي- ځینې حلونه:

څنګه کولای شي چې په ژوندکې دمنفي اړخونو او دچارود ځنډ مخه ونیسې؟

۱-په کافي اندازه خوب وکړه چې اسراف پکې نه وي، ښه به داوي چې دوخته په اوداسه ویده شي.

۲-ګهیڅ وختي پاڅیږه په بستره کې په یوه ډډه اوبله ډډه داوړیدورا اوړیدو څخه ډډه وکړه.

۳-دسهار لمونځ په خپل وخت په جماعت سره پرې نږدې.

۴-دسهار ذکر هیر نه کړې، ځکه داستا دورځې دنیکمرغۍ کیلي ده.

۵-خپل ورځنې پروګرام په ارامو اعصابو جوړکړه، او دریغه چې بیایې دنظر نه تیرکړې او په فقرو کې یې دفکر کولوڅخه لذت واخلې

٦-کوښښ وکړه چې پروګرام دې رنګارنګ وي، اوپه زړه پورې شیانو ته پکې ځای ورکړ شوي وي اودبریالیتوب چانس پکې ډیر وي، بیا په هماغه دپیل زیار او باسه.

۷-دکورنه دوتلوپه مهال دعاء ووایه، که چیرې دې سفردسپرلۍ په وسیله و دسفر دعا هم هیره نه کړې.اوبیا په خپل کار پیل وکړه.

۸-هرڅوك چې دې په دې ورځ مخې ته رازي دموسکا په حالت کې پرې سلام واچوه.

۹-زیار او باسه چې خپل کارونه په ښه بڼه وکړې، دورځې پروګرام دورځې ترپای پورې سرته ورسوې ترڅوچې سباته څه ورڅخه پاتې نه شي.

۱۰-کورته دبیرته راستنیدو په مهال له خپلې میرمنې، کوچنیانو او نوروسره ملاعبه او ساتیری وکړه، څومره به ښه وي که څه سوغاتونه هم ورته راوړې، که چاپه دې ورځ کې څه بریالیتوب لاس ته راوړی وي مکافات یې ورکړه، او که چاکمزوري ښودلې وي تشویق یې کړه او دمشکل په حل کې ورسره مرسته وکړه.

۱۱-په خپل پروګرام کې داستراحت او چکر لپاره هم وخت ورکړه که څه هم لږ وي.

۱۲-خپلو خپلوانو، ګاونډیانو او ملګرو سره په ټولنیزو مناسباتوکې په مناسبه طریقه ګډون وکړه.